# الله تعالی د نېغې لارې مثال - داسې - بیانوي

نَوَّاس بن سمعان الأنصاري رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي يې دي: "الله تعالی د نېغې لارې مثال - داسې - بیانوي چې د لارې په دواړو خواو کې دوه دېوالونه دي، او په هغې کې خلاصې دروازې دي، او پر دروازو پردې راځوړندې دي، او د لارې په دروازه یو بلونکی وايي: اې خلکو! ټول په ګډه لارې ته ننوځئ او غاړو او څنډو ته مه ورکږېږئ، او د لارې له پاسه بل بلونکی دی، نو هر کله چې لاروی وغواړي لدې درواځو څخه څه پرانیزي وايي: افسوس دی پر تا، مه يې خلاصوه، ځکه که تا خلاصه کړه نو خامخا به ورننوځې، او دا نېغه لار اسلام دی، او دوه دېوالونه د الله تعالی حدود دي، او خلاصې دروازې، د الله تعالی محارم دي، او هغه د لارې پر سر بلونکی د الله تعالی کتاب دی، او د لارې د پاسه بلونکی له الله تعالی څخه هغه ویرونکی مبلغ دی چې د هر مسلمان په زړه کې دی«.
[صحيح دی] [الترمذي او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړی چې: الله تعالی د اسلام لپاره په نېغه لار یو مثال وړاندې کړ چې دغه لار سیده ده او هیڅ کوږوالی پکې نشته، او د لارې په دواړو غاړو دوه دېوالونه دي چې تر څنډو يې راچاپېر دي، او دا دواړه د الله تعالی حدود دي، پدې دواړو دېوالونو کې خلاصې دروازې دي چې هغه د الله تعالی محارم دي، او په هغو دروازو پردې دي چې تېرېدونکي ته نه ښکاري د لارې دننه څوک دي، او د لارې په سر یو بلونکی دی چې خلکو ته لارښوونه کوي او ورته وايي: په لاره - نېغ- ځئ، پرته لدې چې غاړو او څنډو ته يې ورکاږه شئ، او دا بلونکی د الله تعالی کتاب دی، او هلته د لارې پر سر یو بل بلونکی دی؛ او دا بلونکی چې کله په لارې تلونکی وغواړي د دروازو پردې یو څه خلاصې کړي نو ویې رټي او ورته وايي: افسوس دی پر تا مه يې خلاصوه! که چېرته يې ته خلاصه کړې نو خامخا به ورننوځې او هېڅکله به ونکړای شې چې ځان له ننوتلو ایسار کړې، او دا بلونکی د هر مسلمان په زړه کې د الله تعالی مبلغ دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65049